# په سویډن کښي د پښتو ژبي د زده کوونکو

# د پښتو ژبي د تدریس شپږم کتاب

# ٦

ترتیب کوونکئ: عبدالعلي رسول‌زاده په مالمو کي د پښتو ژبي ښوونکئ

# ښه خوی

حضرت محمد (صلی‌الله علیه و اله و سلم) ویلي دي چي: "د قیامت په ورځ به تر ټولو درروند شی د میزان په تله کي ښه خوی وي".

د دې مانا داده: کله چي د قیامت ورځ راسي نو ټول انسانان بیا (بیرته) را ژوندي کیږي او د حساب و میدان ته حاضریږي. په هغه ځای کي به یوه تله (ترازو) وي چي د ټولو انسانانو د هغه کارو اندازه به په معلومیږي کوم چي په دنیا کي یې کړي وي. د لوړي وینا څخه دا معلومیږي چي په دغه ترازو کي به ښه خوی ډېر درروند وي.

حضرت محمد (ص) بل ځای داسي وایي چي:" د بشپړ ایمان خاوند (څښتن) هغه څوک دئ چي اخلاق یې تر ټولو ښه وي".

د حضرت محمد (ص) دغه لوړو ویناوو (خبرو) ته حدیثونه وایي، چي یوه خبره یې د حدیث په نامه یادیږي.

---

لغاتونه:

| | |
|---|---|
| تله | ترازو |
| وینا | خبري |
| بشپړ | پوره، کامل |
| اخلاق | خویونه |

# کوښښ

د ژوند مانا (معنی) کوښښ کول دي، بې کوښښه ژوند ګټه نه لري. هر څوک کار کوي، انسانان کار کوي، حیوانان کار کوي، ماشینونه کار کوي.

مور مو د کور په کار کښې او پلار مو تر کور د باندي د ژوندانه په نورو چارو بوخت دئ.

هر چیري چې کوښښ وي نو د ژوند ارامي او وداني هم هلته وي. هغوی چې زیار نه کاږي او کوښښ نه کوي په هر راز غمونو او بد بختیو اخته کیږي.

خپلو ټولګیو ته و ګورئ هر څوک چې زیات کوښښ کوي او خپل درسونه په غور سره لولي، تل ډېر خوښ وي او ښوونکئ ور نه خوشاله وي.

که خپل شاوخوا و ګورئ دغه ټولي ودانۍ او تعمیرونه د کوښښ او زیار څخه منځ ته راغلي دي.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| کوښښ | زیار | غور | دقت |
| چارو | کارو | لولي | وایي |
| بوخت | اخته، لګیا | تل | همېشه، هر وخت |
| وداني | جوړتیا | ودانۍ | تعمیرونه |
| زیات | ډېر | | |

# کیسه

یوې ګیدړې یو کاغذ پیدا کړئ وو ، نو راغله نورو ګیدړانو ته یې وویل چي: "د هغه باغ کواله (قباله) مي اخیستې ده ، راځئ چي هلته مېله و کړو او راز راز مېوې و خورو."

نوري کیدړي هم په ډېره خوشالي باغ ته ور سره ولاړې او باغ ته ور ننوتلې. ګیدړه پر دېوال کښېناسته او نورو ګیدړو د مېوو په خوړلو پیل وکړ.

باغوان راغئ د باغ دروازه یې وتړله او د ګیدړو په وهلو یې شروع و کړه.

نورو ګیدړو هغې بلي ګیدړې ته ور ناري کړه چي: "کواله (قباله) دي څه کړه"؟

هغې وویل:" کواله داده خو څوک یې نه مني."

---

**لغاتونه:**

| | |
|---|---|
| راز راز | ډول ډول |
| پیل | شروع |

یادونه:

پورتنی لوست او دغه مشهور متل سر سره خوري چي وایي: دا یې کواله په چا یې منې.

# ښوونځی

ډلي ډلي ماشومان　　د ښوونځي په لور روان
هر يو خپل خپل کتابونه　　دي نيولي څنګ کښي ځوان
چي سهار له خوبه پاځي　　دا ښايسته ښايسته ګلان
وايي موري هله ژر کړه　　راکړه چاى چي شم روان
هسي نه چي شي ناوخته　　شي خفه به استادان
مور يې ډېره شي خوشاله　　د ماشوم زوى په بيان
خداى دي لوى کړه راته زويه　　شه خفه دي دښمنان
يا بهر له کوره وزي　　کړي را جمع خپل دوستان
ځي په جمع سره ټول　　لکه ستوري د اسمان
شي په کار به مو سبا ته　　دا واړه واړه توتيان
پاس اسمان ته به تکل کړي　　دوى به وي ساينس دانان

---

زده کوونکي دي د شعر مفهوم په خپله ژبه وليکي :

**لغاتونه :**

| | | | |
|---|---|---|---|
| ښوونځی | مکتب | ماشومان | کوچنيان |
| لور | خوا | بهر | د باندي |
| پاځي | ولاړېږي ، را کښېني | استاد ان | ښوونکي |
| را جمع | را ټول | واړه | کوچنيان |
| تکل | تلل | ساينس دانان | ساينس پوهان |
| پاس | پورته ، لوړ | | |

# نصیحتونه

۱ــ د بې وزلو او غریبانو سره مرسته کوئ.

۲ــ په چا پسې بد مه وایاست.

۳ــ د مور او پلار احترام وکړئ او ژوند یې غنیمت و بولئ.

٤ــ ښوونکئ تر مور او پلار کم مه بولئ.

٥ــ که خوی مو ښه وي ، دوستان به مو ډېر وي.

٦ــ تل رښتیا وایاست او له درواغو څخه ځان و ساتئ.

۷ــ د نن کار سبا ته مه پرېږدئ.

---

لغاتونه:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| بې وزلي | خوار ، غریب ، مسکین | مرسته | کومک | | |
| احترام | عزت | غنیمت | ګټه ، څه چې بې مشکله لاس ته راغلي وي | | |

# اوبـــه

زموږ په شا و خوا کي اوبه ډيري زياتي دي. د مځکي د مخ د څلورو برخو څخه درې برخي اوبو نيولی دي.

اوبه د انسانانو، حيوانانو او نباتاتو د ژوند د پاره ډېر اهميت لري. که اوبه نه وي نو انسانان، حيوانان او نباتات ژوندي نه سي پاته کېدای. يو انسان په منځني ډول د ورځي اته ګلاسه اوبو ته اړتيا لري. په دنيا کي اوبه درې ډوله پيدا کيږي لکه:

١ ــ د مځکي پر مخ اوبه لکه د دريابو، رودو، ډنډو (بندو) او ويالو اوبه.

٢ ــ تر مځکي لاندي اوبه لکه د چينو، کارېزو او څاهانو اوبه.

٣ ــ د مځکي پر شا و خوا د بخار په توګه اوبه.

---

ښوونکئ دي د کارېز په هکله زده کوونکو ته ښودنه وکړي

لغاتونه:

| | |
|---|---|
| اهميت | ارزش |
| نباتات | شنه شيان لکه: کاهو، ګندنه، تره تېزک، ګشنيز او نور |

# د چښلو اوبه

ټولي اوبه چي په دنيا کي پيدا کيږي د چښلو د پاره ښې نه دي. د مخه تر دې چي اوبه چښو بايد و پوهيږو چي د چښلو وړ دي که نه.

ناپاکي او چټلي اوبه بدن ته د ګټي پر ځاى تاوان رسوي. په ناپاکو اوبو کي ډول ډول مکروبونه ځاى نيسي او ډول ډول ناروغۍ منځ ته راولي.

د چښلو د پاره د نل اوبه ښې دي ، په کوم ځاى کي چي نل نه وي نو دي سړى د هغه څا اوبه و چښي چي سر يې پټ وي او د چټلو اوبو د ځاى څخه ليري وي ځکه چي څا ته چټلي اوبه د مځکي د سوريو د لاري ور ننوزي او د څا اوبه هم چټلوي.

ښوونکئ دي د څاهانو او کاريزو د کيندلو او د چينو د راپيدا کېدو او د هغو د اوبو د چټلېدو په هکله زده کوونکو ته معلومات ور کړي

# د بــوډۍ ټــال

کله کله به مو ليدلي وي چي تر باران وروسته چي لمر را و خيجي نو د اسمان په لمن کي سرې او زرغونې نيمي دايروي کرښي (ليکي) را ښکاره سي. دغه کرښي د لمر په مخامخ خوا کي وي. ياني که سهار وي دغه ليکي د لمر لوېدو (مغرب) خواته او که ماپښين وي د لمر ختو (مشرق) خواته وي.

که د لمر سترګي ته و ګورو سپينه او روښانه ښکاري. د لمر په وړانګو کي داسي خواص سته چي کله چي د لندې هوا څخه تېرېږي نو اوه رنګونه ور کوي لکه: سور، نارنجي، ژېړ، شين، پېروژيي، زرغون او بنفشيي.

د لمر د وړانګو او لندې هوا په واسطه چي دغه رنګه ګردي خطونه جوړيږي د بوډۍ د ټال (سره او زرغونه) په نامه بلل کيږي.

دغه د بوډۍ ټال د ليري څخه معلوميږي مګر که ور نژدې سو بيا نه معلوميږي.

خلکو به پخوا ويل چي: که نر د بوډۍ تر ټال لاندي ورغړي ښځه کيږي او که ښځه تر لاندي ورغړي نر کيږي.

# تـــوكـــه

يو سړی د يوه كور سره نژدې تېرېدئ چي د يوې ښځي اواز يې واورېدئ چي په ډېر لوړ اواز ژاړي.

سړي پوښتنه ځني و كړه: "ولي ژاړې؟"

ښځي جواب ور كړ چي: "چرګه مي مړه ده."

سړي ورته وويل:" زما پلار مړ سو ما نه دي ژړلي، ته په چرګه پسې دومره ژاړې؟"

ښځي ورته وويل چي: "زما چرګي خو هګۍ اچولې ستا پلار نو څه كول؟"

---

ښوونكئ دي د زده كوونكو څخه پوښتنه وكړي كه يې كومه ټوكه زده وي

# نوم (اسم)

نوم (اسم) هغه کلمه ده چي د انسان ، حیوان ، ځاي او شي نوم وي لکه : احمد ، ملالۍ ، غوا ، اوښ ، چوکۍ ، مېز ، افغانستان ، کابل ، هرات ، کتاب ، قلم او نور . لاندي یو څو جملې لیکل سوي دي ، هر چیري چي نوم راغلئ دئ نو تر هغه لاندي خط کش سوئ دئ :

زه یو کتاب لرم .

احمد د خپل پلار سره بازار ته ځي .

ستا ښوونکئ راغئ .

مور کتاب راوړو .

تمرین : په لاندي جملو کي نومونه پیدا کړئ او خط تر لاندي و لیکئ :

سدو توپ لري .

مور کابل ته ځو .

تاسي یو مېز لرئ .

---

ښاغلي ښوونکي دي تر دغه درس وروسته په نورو درسو کي د زده کوونکو توجه نوم (اسم) ته ور ګرزوي

# ضمیر

ضمیر هغه کلمه ده چي د اسم پر ځای راځي لکه:

| | | |
|---|---|---|
| زه | موږ | زما |
| ته | تاسي | ستاسي |
| دی، دا، دې، دغه | دوی | د ده، د دې، د دغه او د دوی |

په لاندي جملو کي تر ضمیر لاندي خط کش سوئ دئ لکه:

زه یو قلم لرم.

موږ کابل ته ولاړو.

ته یو مېز جوړوې.

دوی کالي مینځي.

احمد تاسي ویني.

په لاندي جملو کي ضمیرونه پیدا کئ او بیا یو خط تر لاندي کش کړئ:

سدو تاسي ته وویل.

دوی تاسي ته وویل.

زما کتاب نوئ دئ.

---

ښوونکئ دي په راتلونکو درسو کي د زده‌کوونکو سره ضمیرونه تکرار کړي

# نیکي

منی تېر سو او ژمی راغئ. هوا سړه سوه. کوچي مرغان تودو ځایو ته ولاړل. یوه عاجزه مرغۍ چي وزر یې مات سوئ وو او الووتلای نه سوه پاته وه.

دا مرغۍ د ونو یوه نژدې ځنګل ته ورغله د دې د پاره چي د ګرمۍ تر راتلو هلته د اوسېدو ځای پیدا کړي.

اول چنار ته ورغله د ځای خواهش یې ځني وکړ. چنار په ډېر غرور او تکبر ولاړ وو، ویې ویل: "زما خوا ته نژدې مه راځه چي ستا بده ورځ ماته را و نه رسیږي".

د زردالو ونې ته ولاړه. هغې ور ته وویل: "زما څخه دا غوښتنه مه کوه. ځه خپله لار دي وهه، دلته د بېګانوو د پاره ځای نه سته".

ولي ته ورغله. هغې ورته وویل: " ځه نژدې مه راځه، زه چي ستا چټل مخ ته ګورم، ډارېږم نه چي ستا د دغه حالت تاوان ماته و نه رسیږي".

مرغۍ عاجزي چي دا جوابونه واورېدل حیرانه سوه، نه پوهېده چي څه وکړي او چیرته ولاړه سي. پدې وخت کي نښتر د لیري ولیده ور ږغ یې کړه، اې غریبي مرغۍ!" څه غواړې او چیرته ځې"؟

دې جواب ور کړ: ”وزر مې مات دئ الوتلای نه سم. نوري مرغۍ تودو ځایو ته ولاړې او زه پاته سوم. ټولو ونو ته ورغلم چې ځای را کړي، یوې هم زړه را باندي و نه سوځئ (سېزه) او نه یې ځای راکړ چې د ژمي دا ساړه پکښي تېر کړم”. نښتر ور ته وویل: ”راځه ماته راسه، هره څانګه چې دې خوښه وي، هلته ځای خوښ کړه او کښېنه”.

مرغۍ د نښتر په یوه ښاخ کښي ځای خوښ کړ او پکښي کښېناسته: نښتر ته یې دعاوي و کړې.

یوه شپه سخت باد راوالووت، د چنار، زردالو او ولي پاڼي یې توی کړې مګر د نښتر پاڼي چې د هغې خواري مرغۍ سره یې ډېر احسان کړئ وو ټولي شنې پاته سوې.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| نیکي | ښه | خواهش | غوښتنه |
| غرور | کبر، لويي | چټل | خیرن |
| ډارېږم | وېرېږم، ببرېږم | غريبي | خواري، مسکیني |
| عاجزه | خوارکۍ | پاڼي | بلګونه |
| ونه | درخته | | |

# دا ګز او دا میدان

یوه سړي په یوه مجلس کې وویل: "یو وخت مې شل ګزه (متره) ټوپ وهلئ دئ". خلک ټول حیران شول. یو او بل ته یې و کتل چې دا څه وایي؟ د یوه سړي باور شو چې دی دروغ وایي. نو ورته ویې ویل: "دا ګز (متر) او دا میدان، که دومره ټوپ وهلای سې دا دئ و یې وهه څو دروغ او رښتیا دې معلوم شي".

خبره چې رښتیا ته راغله نو د سړي پر مخ خولې را ماتې شوې او رنګ یې والووت. ځکه چې شل ګزه ټوپ یې وهلای نه شوای.

---

لغاتونه:

| | |
|---|---|
| ټوپ | خېز، غورځېدل |
| باور | یقین، زړه ته ور تلل |

# ښېګڼه

یو مېږی د ډنډ پر غاړه د خورک د پیدا کولو د پاره ګرزېدئ چي نا پامه یې پښه و ښویېده او په اوبو کي ولوېد. په ونه کي یوه کوتره ناسته وه سیل یې کاوه ، و یې لیده چي مېږی په لامبو نه پوهیږي او نژدې دئ چي ډوب شي. زړه یې پر و سو او یوه پاڼه یې په مشوکه پرې کړه او په مخ کي یې ورته واچوله. مېږی د ځان د خلاصولو د پاره پر پاڼه ونښت او روغ د اوبو څخه را ووت.

---

لغاتونه:

| | |
|---|---|
| ډنډ | د ابو حوض |
| لامبو | اوبازي |

# بزګر او خزانه

یو بوډا بزګر ډېر ناجوړه او ضعیف شو . و پوهېد چي د مرګ وخت یې را نژدې شوئ دئ او د دې نا روغۍ څخه نه جوړېږي نو خپل زامن یې را وغوښتل او ورته و یې ویل :" زامنو ! زه خو مرم او د دنیا څخه ځم . ستاسي د پاره مي په باغ کښي د سرو او سپینو زرو خزانه ښخه کړې ده .

چي مړشوم هغه پیدا کړئ او ویې کاږئ . او لږ لږ ئني خرڅوئ . راحت او ارام ژوند پرې کوئ ".

بزګر څو ورځي وروسته مړ شو ، زامنو ښخ کړ . څو ورځي پس یې زامنو یومان راواخیستل ټول باغ یې پر بل مخ واړاوه . ډیري ورځي یې زیار وکیښ مګر د خزانې هیڅ نښه یې و نه لیده . زړونه یې ساړه شوه او کرار کښېناستل.

باغ چي ډېر اووښتئ او کښته پورته شوئ وو نو په دغه کال يې ډېره مېوه وکړه. زامنو يې هغه خرڅه کړه او ډېري پيسې يې و ګټلې. نو د پلار د خبري په مطلب و پوهېدل چي:

بې زحمته راحت هيڅ نــه پيدا کيږي

فايده يوړه هغه چا چي کار يې و کړ

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| بوډا | زوړ، سپين ږيری | ضعيف | کمزوری |
| راحت | ارام | زيار | زحمت، کوښښ |
| نښه | نښانه، نخښه | مطلب | مقصد، غوښتنه |

يادونه: ښوونکئ دي د دغه لوست مطلب زده کوونکو ته شرحه کړي. او دا دي ورته و ښيي چي د باغ د مځکي اړول او را اړول څرنګه د مېوې پر زياتوالي اغيزه کوي.

# حریص تل بې برخي وي

د اختر ورځ وه مسلمانانو قربانۍ کولې ، یوه حریص سړي د ځانه سره وویل چي لومړی به ولاړ شم د نورو کلو غوښې به را ټولي کړم . د خپل کلي غوښي خو مي خپلي دي .

رهي شو ، بل کلي ته ورغئ . هغوی غوښي وېشلي وې . څه نه وه پاته چي ور يې کړي ، خالي لاس خپل کلي ته راغئ . دلته هم غوښي وېشلي شوي وې ، هیڅ نه وه پاتي . حریص د خپل حرص په سبب محروم پاتي شو . هر څوک چي حرص کوي ، صبر ، قناعت او بسنه نه کوي ، محروم پاتي کیږي .

لکه چي وایي :

د حـــریص کاســـه چـــپه ده    لاس يې تش خوله يې سپېره ده

د قـــانــع ډوډۍ پــــــخه ده    لاس يې ډک خوله يې خـوږه ده

---

لغاتونه :

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| حریص | سرابښ ، اروا وږی | بې برخي | چي څه ور و نه رسیږي | | |
| لومړی | اول | محروم | بې برخي | | |
| حرص | سرابښي ، چي هر څه ډېر غواړي | قناعت | بسنه ، چي ووايي نربس | | |
| | | سپېره | خړ ، خالي | | |

یادونه : ښوونکي دي زده کوونکو ته د دغه لوست له مخي د صبر او قناعت لغاتونه شرحه کړي .

# صفت

صفت هغه کلمه ده چي په یوه جمله کي پر نوم یا اسم باندي تاثیر وکړي
لکه: لوړ، ټیټ، ارزانه، ښه، بد، غښتلئ، ښکلې او داسي نور

په لاندي جملو کي تر صفت لاندي خط کش سوئ دئ.
زمرک یو ښکلی موټر لري.
موږ په هغه سره کور کي ژوند کوو.
تاسي یو ارزانه کتاب رانیولئ دئ.

زده کوونکي دي په لاندي جملو کي صفتونه پیدا کړي او یو خط دي تر لاندي کش کړي:

ملالۍ یو تور کمیس رانیو.
سورګل یو زوړ بایسکل لري.
موږ دوه نوي قلمان راوړه.
دوی خپل تکړه ښوونکي ته وویل.

---

لغاتونه:

تکړه لایق، پوه

یادونه: ښوونکئ دي زده کوونکو ته ووایي چي نور صفتونه پیدا کړي او پر یوه پاڼه یې و لیکي.

# ټوکـه

د یوه کلیوال سړي خر ورک سوئ وو ، دی ډېر خواشینئ وو . خلکو ډاډ ور کاوه چي خیر دئ مه خپه کېږه ته دي ژوندی یې بل خر به پیدا کړې .

هغه ورته وویل : " زه هم خوشاله یم ، شکر دئ چي زه پر سپور نه وم ، که چیري زه پر سپور وای ، نو زه به هم ورک سوئ وای ." خلکو پر و خندل .

ده وویل : "زما خر ورک سوئ دئ ، زه پسې خپه یم او تاسي خاندئ ، خدای دي وکړي چي تاسي پر خره سپاره یاست او خر مو ورک سي چي ټول ورک سئ ."

---

لغاتونه :

| | |
|---|---|
| خواشینی | خپه ، خوا بدئ |
| ډاډ | زړه پوړی |

# څلور خواوي

مځکه څلور خواوي لري چې نومونه يې شمال، غرب، جنوب او شرق دي. د دې د پاره چې و پوهېږو پر دغه ځای چې موږ ولاړ يو کومې خوا ته مو شمال، غرب، جنوب او يا شرق دئ نو لومړی به و ګورو چې لمر د کومې خوا را پورته کېږي. کله چې مو د لمر د را ختلو خوا پيدا کړه هغه خوا ته به ښی (راسته) لاس و نيسو، مخامخ ته به مو شمال، کيڼ لاس ته به مو غرب او شا ته به مو د جنوب خوا پرته وي.

ځيني خلک شرق ته مشرق او غرب ته مغرب هم وايي. شرق په پښتو لمر خاته او غرب د لمر لوېدو په نامه بلل کېږي.

---

يادونه:

ښوونکئ دي په ټولګي کي په زده کوونکو څلور خواوي پيدا کړي او هم دي د ښوونځي څلور خواوي په و پېژني او بيا دي د زده کوونکو د کورو د څلورو خواوو پوښتنه ځني و کړي.

# ښه هلک

يوه هلک په بازار کي قلمونه خرڅول. يو سړی راغئ پنځه دانې قلمونه يې ځني رانيول.

د اخيستونکي پام نه وو د پنځو روپو پر ځای يې لس روپۍ ور کړې او ځني ولاړ.

هلک چي پوه شو ، اخيستونکي لس روپۍ ور کړي وې ، ورپسې يې منډې کړې او ورته ويې ويل:

"وروره! ته خطاوتلئ يې ما ته دي د پنځو روپو پر ځای لس روپۍ راکړي دي ، زما پنځه روپۍ کيږي". اخيستونکئ د هلک د ايمانداری او صداقت څخه ډېر خوشاله شو او ورته يې وويل: "شاباس! خداي(ج) دي خير در کړي".

ښه هلک نه يوازي صادق او رښتيا ويونکئ وي بلکي د مور ، پلار ، وروڼو ، خوندو ، نورو دوستانو او ټولو انسانانو سره مرسته کوي او په خپلو درسو کي زيات کوښښ کوي.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| منډي | ځغاسته | ايمانداري | رښتيا ويل |
| صداقت | رښتيا ويل | صادق | رښتيا ويونکئ |
| مرسته | کومک | | |

# پلار او مور ته لیک

زما مهربانه پلاره او گراني مورجاني ، اسلام علیکم!

خدای پاک دي وکړي چي جوړ او روغ اوسئ. زه هم جوړ او روغ یم. درې ورځې د مخه ستاسي یو لیک را ورسېد. دا چي ستاسي د روغتیا احوال یې راکړئ ډېر خوشاله شوم.

پلاره! زموږ ښوونځی درې ورځې وروسته رخصت کیږي او زموږ د اوړي رخصتي پیل کیږي. زه غواړم چي په رخصتي کي کور ته درشم.

نور مو نو پر پاک خدای سپارم، لاسونه مو د دې ځایه مچوم.

ستاسي زوی\لور ..................

---

**لغاتونه:**

| | | | |
|---|---|---|---|
| اوړئ | دوبئ | پیل | شروع |

یادونه:

زده‌کوونکي دي دغه لیک د یاده زده کړي او ښوونکئ دي کله کله د دغه لیک مشق او تمرین په کوي.

# سپوږمۍ

سپوږمۍ د ځمکي پر شاوخوا باندي را ګرزي. سپوږمۍ پخپله رڼا نه لري بلکي د لمر رڼا ته انعکاس ور کوي او هغه خوا يې معلوميږي چي لمر پر برابر وي.

د ډېره وخته څخه انسانانو دا پوښتنه کړېده چي که تر ځمکي د باندي په کومه بله سياره کي ژوند ممکن وي، ځکه يې نو تل دا غوښتي دي چي تر ځمکي د باندي کومي بلي سيارې ته سفر وکړي.

سپوږمۍ په فضا کي تر ځمکي د باندي لومړنی ځای دئ چي انسان هلته ورغلئ دئ. د ۱۹٦۹ عيسوي کال د جولای پر ۲۱ نېټه د لومړي ځل د پاره (نيل ارمسټرانګ) امريکايي د خپل يوه بل ملګري سره په سپوږمۍ کي پښه کښېښوده. دوی داسي وويل چي په سپوږمۍ کي ژوند امکان نه لري. ځکه چي هلته هوا، اوبه او د کشش قوه (دروندوالی) نه سته. د هوا درجه د ۱۳۰+ او ۱۷۰- تر منځ وي. شپه او ورځ ۱٤ شواروزه وي او يوازنی رنګ د ځمکي رنګ دئ چي سړی يې په يوه تور اسمان کيويني.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| بلکي | خو، مګر | انعکاس | بيرته راګرزېدنه |
| امکان | کېدونکئ، د کېدو وړ | شواروز | شپه او ورځ (۲٤ ساعته) |
| فضا | هغه ځای چي ځمکه، لمر، ستوري، سپوږمۍ او ټولي سيارې پکښي پرته ده | | |

# څو پښتو متلونه

۱ ـ چې کرې ، هغه به رېبې .

۲ ـ ژرنده که د پلار ده ، خو په وار ده .

۳ ـ چې اوسې ، په خوی به د هغو سې .

٤ ـ په یوه ګل نه پسرلی کیږي .

٥ ـ خپله ژبه هم کلا ده هم بلا ده .

٦ ـ شیدو سوئ مستې پوکي .

۷ ـ د لوږي مړ شه خو د منت خواړه مه خوره .

۸ ـ اور ته خپل او پردي یو دي .

۹ ـ خدایه لوی مې کړې لویي را مه کړې .

۱۰ ـ د کبر کاسه نسکوره ده .

---

یادونه :

ښوونکئ دي لوړ متلونه زده کوونکو ته شرحه کړي او بیا دي زده کوونکو ته دنده ور کړي چې دغه متلونه په یاد کړي او څه نور متلونه د خپل مور او پلار څخه زده کړي او په ټولګي کي یې ووایي .

لغاتونه :

| | | | |
|---|---|---|---|
| رېبې | پرې کوې | خوی | عادت |
| پردی | بېګانه | کبر | لویي ، غرور |
| منت | چې څوک چا ته بد وایي ، ترټل | نسکوره | چپه ، تشه |

# بـــاران

کله چي د مځکي د مخ اوبه د مځکي او لمر د تودوالي (تودوخې) په اثر په بخار (براس) بدلي شي نو د غاز په ډول هوا ته پورته کیږي. هر وخت چي دغه غاز په هوا کي د یخي او سړې هوا سره مخامخ شي نو د اوبو د څاڅکو په شان د مځکي خوا ته د باران په شان را اوري. کله کله هوا دومره سړه وي چي دغه د باران څاڅکي یخی شي او د واوري یا ژلیو په شان د مځکي خوا ته را اوري.

د دې کار د ربښتیا کولو د پاره به دغه یوه اسانه تجربه وکړو:

په یوه دېګ کښي یو څه اوبه واچوئ او پر اور یې کښېږدئ. کله چي اوبه ډیري تودې شي نو که د دېګ سر پورته کئ و به وینئ چي د دېګ د سرپوښ څخه د باران په شان اوبه را و څڅیږي، دا ځکه چي د دېګ د سر پوښ لاندي د اوبو تود بخار او د باندي د خوا یې یخه هوا ده.

---

یادونه:
ښوونکئ دي زده کوونکو ته لومړی ماده او بیا د مادې درې حالته لکه جامد، مایع او غاز ور و پېژني.
ماده هغه شی ده چي په فضا کي ځای نیسي او دروندوالئ لري.

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| غاز | لکه هوا | څڅېدل | څاڅکي څاڅکي را تویدل |

# د مځکې لويې وچې

په نړۍ کښې پنځه لويې وچې دي چې انسانان ژوند پر کوي لکه: اسيا ، اروپا ، امريکا ، افريکا او استراليا. د نړۍ د پيدايښت د ورځې څخه بيا تر نن ورځې پورې د نړۍ دغه لويې وچې څو ځله تر اوبو لاندې شوې او پر يو ځای او بل ځای ښکاره سوې دي.

مځکه د يوه توپ (کرې) په شان ګردۍ ده او په يوه کال کې د لمر پر شا و خوا را ګرزي ، چې د دغه ګرزېدو څخه څلور فصلونه پيدا کيږي لکه: پسرلی ، اوړی ، منی او ژمی.

د کال دغه فصلونه درې درې مياشتې دي. په افغانستان کې په دغو مياشتو کې وي:

پسرلی: حمل (وری) ، ثور (غويی) او جوزا (غبرګولی)

اوړی : سرطان (چنګاښ) ، اسد (زمری) او سنبله (وږی)

منی : ميزان (تله ، ترازو) ، عقرب (لړم) او قوس (ليندۍ)

ژمی : جدي (مرغومی) ، دلو (سلواغه) او حوت (کب ، ماهی)

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| نړۍ | دنيا | ځله | واري |
| اوړی | دوبئ | فصل | موسم |

يادونه: زده کوونکي دې د مځکې د لويو وچو نومونه په ياد کړي.

# مکر جنه ګیدړه او نا پوه چرګ

له یو کلي نه ګیدړه تېرېدله
چرګ یې ولید سمدستي و درېدله

په ډېر مکر یې د چرګ وکړ ادب
ویلې پېژنم ستا پلار او ستا نسب

ستا د پلار اواز ډېر خوږ وو په اذان کي
دا اذان د بل چرګ نه وو په جهان کي

خوند به و کړي که ته و کړې یو اذان
کاشکي خوږ وي ستا اواز د پلار په شان

چرګ را نېغ شو چي اوس و کړي خوږ اذان
هغې ټوپ کړ چرګ یې و نیو په یو ان

چرګ برباد شو د خپلي ناپوهۍ
د ګیدړي لاس کي شو په مکارۍ

---

لغاتونه:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| مکرجن | چالبازه | سمدستي | ژر | مکر | چم ، چل |
| ادب | عزت | نسب | کام | کاشکي | ګوندي |
| نېغ | جګ | ټوپ | ځغستا | یو ان | یو ګړی |
| بر باد | خراب | | | | |

# افغانستان

زموږ ګران هیواد افغانستان یو غرنی هیواد دئ چي د اسیا په لویه وچه کښي پروت دئ.

د شمال و خوا ته یې د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان هیوادونه؛ د غرب و خوا ته یې ایران او جنوب او شرق ته یې پاکستان پروت دئ. په شري خوا کښي د چین سره هم یو څو کیلو متره سرحد لري.

ډېر جګ غرونه لري. په ژمي کښي یې پر غرو باندي واوري کیږي. په پسرلي او دوبي (اوړي) کي یې واوري ویلي کیږي او او به یې د ویالو او رودو په شان بهیږي چي په دغو اوبو د کښت او کرلو د پاره مځکي اوبه کوي.

ډېر باغونه لري چي راز راز خوږې او خوندوري مېوې په کښي وي. مېوې یې څه په خپله په هیواد کښي خلک خوري او څه نوري یې نورو هیوادو ته د تجارت (سودا ګری) د پاره لېږل کیږي.

لوی ښارونه یې لکه:

کابل

کندهار

هرات

مزار شريف

جلال اباد

او نور .

غلې يې غنم ، اوربشي او جواري دي.

د افغانستان نقشه :




---

يادونه :

ښوونکئ دي پر اور هيڅ باندي زده کوونکو ته دغه نقشه او که ممکنه وي څه نوري نقشې ور و ښيي.

لغاتونه : هيواد وطن

# هــــیواد

مـورِ بـچیان د دې هیواد　　　　پـیدا شـوي یـــو ازاد
خـویندي ورونـه افغانان　　　　ګـڼ مـو کور افغانستان
یـو که نن مورِ کوچنیان　　　　خـو سبـا تــه یو لویان
دغــه خــاوره به کړو بڼ　　　　دا ډاګــونــه بــه چــمن
رسـوو ځــان تــر جهان　　　　څو مو مټو کي وي توان
خپل هیواد بـه کړو ودان　　　　لورِ مو نوم په ټول جهان

---

یادونه.
ښوونکئ دي د زده کوونکو سره مرسته وکړي چي د لورِ شعر مقصد په خپله ژبه بیان کړي.

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| هیواد | وطن | بچیان | اولادونه |
| ګڼ | د ټولو | بڼ | باغ |
| ډاګونه | میدانونه، دښتونه | جهان | دنیا |
| مټو | بازوګان | توان | قوت، زور |
| ودان | اباد، جوړ | | |

# هوښيار قاضي

د يوه سړي غلا وشوه ، قاضي ته ولاړ او ورته ويې ويل : "غلا مي شوې ده او پر څلورو کسانو مي شک دئ چي همدوی به وي".

قاضي دغه څلور کسان را و غوښتل .

کله چي دغه څلور کسان د قاضي په مخ کښې و درول شوه ، قاضي ورته وويل : " غل دي پخپله ځان و ښيي". هغوی ټول منکر شوه . قاضي حکم وکړ : "يوه يوه لښته ورکړئ او د څه وخت د پاره يې په جلا جلا خيمو کښې بنديان کړئ . هر چا چي غلا کړې وي د هغه لښته به دوې ګوتي اوږده وي".

غله له ځانه سره وويل : " زما لښته خو هغسي دوې ګوتي اوږديږي ځکه ضرور ده چي دوې ګوتي ترې پرې کړم چي د نورو له لښتو سره برابره شي"، همداسي يې و کړل .

لږ وخت وروسته قاضي وو يل : "څلور واړه راولئ". خلک چي د قاضي په مخ کښې و درول شوه ، د دريو کسو لښتي برابري وې ، او د غله لښته دوې ګوتي کمه وه . قاضي چي د غله لښته وليده تر نورو لنډه ده ، ور ته و يې ويل :"تا په خپله ځان وښود چي غل يې ، ورشه او غلا کړي مالونه راوړه".

غله سترګي ټيټي ونيولې ، او غلا يې و منل .

# د لمر نظام

په فضا کي لمر د رڼا او تودخي منبع ده چي هر څه ته رڼا او تودوخه ور کوي. په فضا کښي لمر، سیارې، ستوري او اسماني ډبري یا د حرکت په حال کښي دي او یا ولاړي دي.

سیاره هغه ستوری دئ چي د لمر پر شاوخوا په حرکت کي وي او د لمر پر شاو خوا راګرزي، پخپله رڼا نه لري او د لمر څخه رڼا اخلي.

ستوري په فضا کښي ولاړ دي. دوی هم پخپله رڼا نه لري، دوی د لمر د رڼا په واسطه روښانه کیږي.

دا چي د لمر رڼا پر یوه سیاره یا ستوري و ځلیږي او بیا هغه موږ وینو، دې ته انعکاس وایي. یاني سیارې، ستوري او سپوږمۍ د لمر رڼا ته انعکاس ور کوي ځکه یې موږ وینو.

په فضا کي ټولي سیارې، ستوري او سپوږمۍ د لمر پر شاوخوا ګرزي، دغه ته د لمر نظام وایي.

---

لغاتونه:

| | |
|---|---|
| فضا | هغه ځای چي مځکه، لمر، ستوري، سپوږمۍ او ستوري ځای پکښي لري |
| تودوخي | ګرمي |
| منبع | د پیدا کېدو یا راوتلو ځای |
| نظام | یو نظم، انتظام |

# خسوف او کسوف

خوسوف او کسوف ته په پښتو د سپوږمۍ تندره او د لمر تندره وايي.

مځکه او سپوږمۍ د خپله ځانه رڼا نه لري او د لمر رڼا ته انعکاس ور کوي.

خوسوف (دسپوږمۍ تندره) هغه وخت پېښېږي چي مځکه د لمر او سپوږمۍ تر منځ راسي او مځکه د سپوږمۍ څخه د لمر رڼا بنده کړي نو سپوږمۍ تاريکه ښکاري.

کسوف (د لمر تندره) هغه وخت پېښېږي چي سپوږمۍ د مځکي او لمر تر منځ راسي او د مځکي څخه د لمر سترګه پټه کړي.

**يو هوښيار سړی**: يو وخت په ترکيه کي يو هوښيار سړی اوسېدئ چي نوم يې نصرالدين هوجا وو. ځکه چي دی ډېر پوهېدئ نو خلکو د هر شي په هکله د ده څخه پوښتني کولې. يو وخت يو سړی ورته راغئ او پوښتنه يې ځني وکړه چي: "لمر مهم دئ که سپوږمۍ؟"

ده جواب ور کړ چي: "لمر د ورځي را ختلئ وي چي رڼا وي سپوږمۍ ځکه مهمه ده چي د شپې را ختلې وي کله چي تاريکي وي."

---

لغاتونه:

ځکه   د دې خاطره، د دې سببه   په هکله   په باره کي

مهم   ضروري، لازم، په کار

يادونه: ښوونکئ دي زده کوونکو ته پر تخته د خسوف او کسوف شکل و ليکي.

# برابر وېش

دوه موږکان پر یوه لار سره ملګري وه. یوه بل ته يې وویل: "هر څه چې مو پیدا کړه په خپلو منځو کې به يې برابر ووېشو". په پای کې د یوه پنیر خرڅوونکي دکان ته راغله. د شپې پنیر خرڅوونکئ کور ته ولاړ او دکان موږکانو ته پاته سو. موږکانو په یوه کاسه کې د پنیر یوه ټوټه پیدا کړه. د پنیر ټوټه يې را واخیسته او ویې ویل: " اوس نو باید یو دریم څوک وي چې د پنیردغه ټوټه برابره را ووېشي". نو راغله یوې پیشي ته يې ور ږغ کړه چې دا کار وکړي.

پیشي وویل چې: " د دې کار د پاره یوې تلي (ترازو) ته اړتیا (ضرورت) دئ". نویې د دکان د تلي څخه کار واخیست.

پنیر يې دوې ټوټې کړ او د تلي و پلو ته يې ور واچاوه. که ګوري چې د تلي یوه پله درنه او یوه سپکه ده، نو يې د درنې پلې د پنیر څخه یوه ټوټه پرې کړه او په خوله يې کړه. ګوري چې اوس بیا هغه بله پله درنه سوه،

نو يې د هغې پلې څخه يوه ټوټه راپرې کړه او خولې ته يې واچوله څو پدې شان يې ټول پنير و خوړ. موږکانو يو او بل ته سره وکتل او پيشو ته يې وويل: "دا څرنګه وېش او قضاوت وو؟" پيشو ور ټوپ کړه او دواړه يې و خوړل او د ځان سره يې و ويل: "دا ساده ګان ګوره چې تر اوسه يې خپل دوست او دښمن و نه پېژندئ."

---

لغاتونه:

برابر      يو شان، يو ډول، مساوي
کاسه      پياله
قضاوت      براري، حکم
ساده ګان      بې عقلان، نا پوهان

يادونه: زده کوونکي د دې لوست مفهوم په خپله ژبه په ټولګي کې د کيسې په شان و کړي.

# د مور او پلار حقونه

مور او پلار هغه څوک دي چي مونږ يې لوی کړي او روزلي يو. مور مو شيدې راکړي دي ، ډېر زيات تکليفونه يې ګاللي دي او پلار مو د ژوندانه د نورو چارو د سمون او برابرولو د پاره زمونږ سره زيار ايستلئ دئ.

مور او پلار ښوونځي ته لېږلي يو چي څه زده کړو. نو د مور او پلار احترام ، عزت او د هغوی سره ښه کول د انسانيت او مسلمانۍ د ښو اخلاقو څخه دي. خدای پاک په قران شريف کي ويلي دي چي د مور او پلار په مخ کي (اُف) هم مه واياست چي زړه يې خپه نه سي. نو بايد د دوی سره په ډېره نرمي خبري وکړو او تل يې هغه څه و منو کوم چي مونږ ته يې وايي.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| روزلي | لوی کړي، ساتلي | زيات | ډېر |
| تکليفونه | زحمتونه | ګاللي | پر ځان وړي |
| زيار | کوښښ ، زحمت | احترام | عزت |
| اخلاق | خويونه | اُف | سړی د سختۍ په وخت کي اُف کوي |
| تل | هر وخت ، هميشه | | |